پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۵/۰۸

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۷۷ مه پرله پسې برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایډیټ:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**سر محمد**: [1]: ـ ۳۴، ـ ۶۸ : لوړوالی: ۸۰۵۱ فیټه. دا د کابل – غزني د سړک په اوږدو کې د شیخ آباد او میدان تر منځ یو کلی دی. (هګ)

**ســَـــر اوبي**: یا: ســور اوبي: [2]: ۳۶ – ۳۴، ۴۵ – ۶۹ „ن„: سروبي د یوۀ ښارګوټي نوم او د کابل د ولایت یوه ولسوالي ده چې ۱۱۵۹ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمــېــر ئـې چې بزګري پرګني دي د ۹۱۴۵ تر ۱۲۴۴۵ تــنو تر منځ اټکل سوی دی. دا ولسوالي د کابل د ولایت په ختیځ کې واقع ده چې د ننګرهار او د لغمان له ولایتونو سره کرښه لري.

سروبي ۴۲ کلي لري چې ۱۴ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېــر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Yakhdand | یخ ډنډ | Naghlu | نغلو | Laker Lam | لکر لام | قلعۀ کلان و زمین |
| Jagdalek | جګدلک | Torkanai | تورکاني | Marwarah | مروره | سلام خیل |
| چشمـۀ دکه | | Dabili | دبــیـلي | Farmanbeg | فرمان بیګ | Narghundi نرغندي |

[1] -SAR MUHAMMAD
[2]-SAROBI Or SORUBAY


maqalat@afghan-german.de افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Chasma -i-Duka | | حسين خيل | | کبل تو | Kabaltu | ابراهيم خيل | |
| گز | Gaz | گوگه منډه | | Gogamundah | | شپول بابا | |
| Shapol-Baba | | چشمـۀ اسمعيل | | چشمـۀ نصرت | | سَسوبي | Sasbobi |
| کوټه گۍ | Kotagai | واکه | Waka | ايسپرکندي | Ispar Kundi | انگور تاک | |
| چنار | | رودبار | | قريـۀ سروبي | | هوت خيل سروبي | |
| خاص تيزين | | جلوبي | Julubi | سيد ميا رسول بابا | | عبدالرحيم «چپر سياه کوه» | |
| Abdurrahim (Chapar Sia Koh) | | مرغي چشمـۀ کمرقول | | Murghi Chasma -i -Karam Qol | | آهنگران | |
| شامکِ ملا خيل | | Shamak -i-Mulla Khel | | قلعـۀ حسن | | ژرنده | Zarandah |
| گردي مرغه | Gerdi Murgha | قلعـۀ جانان | | جروى | Jaroy | جروبي | Jarobi |
| شيراب | Shirab | تستين | Tastin | | | | |
| (لودويگ آدمک) | | | | | | | |

دا سيمه په ۱۹۱۲ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:

دا د تيزين د سيند د کيڼې غاړې په اوږدو کې د کابل د سيند او د تيزين د سيند د يو ځای کيدنې ټکي ته نيـږدې د کليو يوه ډله ده. دلته د لوی ځواک د کمپ وهلو لپاره ډېـر ځای سته چې د تيزين د سيند او د اوبو د چينو پريمانه اوبـۀ لري خو اړتيا توکي په کې په قلت دي. د تقريباً ۱۰۰۰ څارويو لپاره علوفه چې د يوې ورځې کفاف ئـې وکړي او ۱۰۰ مونډه ناژرنده سوي غلات له شاو خوا سيمې څخه په سختۍ سره راټوليدای سي. دلته سون توکي پريمانه دي. همدلته يو عام سرای هم سته.

له جلال آباده تر کابل پورې د سيند د غاړې لاره په سروبي کې له «سـۀ بابا» څخه تر نغلو او چاريکارو پورې لارې څخه په تقاطع تـېـرېـږي. اخيرالذکره لاره د سروبي په مقابل لور کې د کابل له سينده د V د توري په څير گودر څخه راتــېـرېـږي، د Vد توري د گودر څوکه د اوبو د بهيدلو په مخالف لور کې ده. دلته د سيند بستر له جغلو، شگو او کاڼو ډک دی؛ له گودر څخه باروړونکي څاروي تـېــريدلای سي. (آی. بي. سي، جانستن)

**سروبي:** ۷ – ۳۴، ۴۸ – ۷۰ «ن»: دا د شينوارو په سيمې کې د «پيش بولک» په سويل کې يو کلی دی. دلته د ۲۰ خاصه دارانو يوه پوسته ځای پرځای دی. (آی. بي. سي) دا ځای د باسول په سويل لويديځ کې واقع دی.

* **سروبي:** ۴۸ – ۳۲، ۵- ۶۹ «ن»: سروبي د پکتيا د ولايت يوه علاقه داري ده چې ۴۱۱ کيلومتر مربع مساحت لري او د وگړو شمــېــر ئـې چې بزگرې پرگنې دي د ۳۸۳۸ تر ۵۱۲۵ تــنو پورې اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لويديځ او سويل لوري له گومل، شمال لوري له سرحوضې او اورگون او له ختيځ لوري له برمل سره کرښه لري. سروبي ۲۱ کلي لري چې ۳ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوگن وگړي لري. لنډمهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نوې کلا پاسني | | Nawi Kala Pasani | | پستولي | Pastolay | زله پاسني | Zala Pasani |
| رباط | | مستوى | Mastoy | عباس خيل | | نوى لانچي خيل | |
| Nawai Lanchi Khel | | زله لانچي خيل | | Zala Lanchi Khel | | طاؤوس خيل «کاوس خيل» | |
| Taus Khel (Kaus Khel) | | نوى بابوخيل | | Nawi Babo Khel | | خاني کلا | |
| هيبـتي | Haybati | زله بابوخيل | | سودان خيل «شوران خيل» | | Sodan Khel (Shoran Khel) | |
| بس نس خيل «شابي ناش خيل» | | Bas Nas Khel (Shabi Nash Khel) | | ايزي | Ezai | منگرو توى «مونگور جوى» | |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| Tabut Hayat Khel | تبوت حیات خیل | تورخیل | Mangro Toye (Mongor Joye) |
| Haji Sadozai | حاجی سدوزی | Tabut Babo Khel | تبوت بابوخیل |

**سروبیه** : [3]: ـ۳۲، ـ ۶۸: دا د خروټو په سیمي کې یو کلی دی. دا کلی یوه کندواله کلا لري چې د "دوه ګومل" [4] د سیند سرچینې ته نیـږدې ځو کورونه هم لري. (براد فوټ)

**سارون**: [5]: دا د دایکندیانو یوه ځانګه ده.

* **سارون خیل**: [6]: ۴ ـ ۳۲، ۱۶ ـ ۶۸ «ج»: ۴ ـ ۳۲، ۱۶: دا په کټواز کې یوه سیمه ده. همدا شان په دې نوم یو کلی د علي خیلو د لویدیځ په ۶ مایلی کې په ۵۷ ـ ۳۳، ۴۰ ـ ۶۹ «ج» کې موقعیت لري. اوسنی نقشې د "سیرني خیلو" [7] نوم ښیي. (لودویګ آدمک)

**سروپ شیر**: وګورئ: سر افسر

**سروي تـنګی**: [8]: ـ۳۳، ـ ۶۹: دا د کورم په بره دره کې یو تـنګی دی چې د "نور غاسي" [9] او د "لاجي" [10] د درې تر منځ واقع دی. د دې تـنګي عام ارتوالی له ۷۰ تر ۸۰ یارډو پورې دی. (کین)

**سروندي**: [11]: ۳۶ ـ ۳۲، ۴۱ ـ ۶۸ "الف": لوړوالی: ۷۵۰۰ فیټه. دا د سلیمان په غرني لړۍ کې د ګومل د سیند په سر کې یو کوتل دی. کوتل ته د ختلو لاره چې د کوتل په لویدیځ کې له "شین ځا" [12] ځخه پیلیـږي د ۳ مایلو په واټن تدریجي ختـنګ لري او د توپونو د لیـږدولو وړتیا هم لري. له دې وروسته د ۲۰ یارډو لپاره بیا ختل پیل کـېـږي ځکه د شیوه لارې زاویه تقریباً ۱۱ درجې کـېـږي او په دې پسې ختل بیرته تدریجي حالت ته راګرځي چې د یوې تـنګي اوږدې درې له لارې کـېـږي، د غرونو په منځ کې د دې تـنګي لارې ارتوالی له ۳۰ تر ۴۰ یارډو پورې دی، دا غرونه شمال لور ته ستوغ او سویل لور ته ګردي دي. له همدې ټکي وروسته کوزیدل پیلیـږي چې د لارې شیوه والی ئـې تقریباً ۳ درجې دی. غر دلته په بوټو پوښلي دي او لاره د یوې کوچنې ویالي تر څنګ کوزه سوې ده. (براد فوټ)

**سرواني خیل**: [13]: ـ ۳۳ ، ـ ۶۹: دا د جاجي په سیمي کې یوه کلا ده خو داسي سرچینه نه سته چې دا خبره روښانه کړي. دلته ۵۰ کورونه دي او د زرد آلو بې شماره بڼونه لري او ویل کـېـږي ۱۰۰ تنه جنګیالي چمتو کولی سي. (آغا عباس ستړني: وګورئ: رباط "۱")

---

[3]-SAROBIA
[4] -Dwa Gumal river
[5]-SARUN
[6] -SARUNKHEL
[7]-Serni-khel
[8]-SARWAI TANGI
[9]-Nur Ghasi
[10]-Laji
[11] -Nur Ghasi
[12] -Shintsa
[13] -SARWANI KHEL


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼي پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**سـڅـوم گرام**: یا: تـڅـم گرام: [14] : ۲۰ ــ ۳۵، ۵۵ ــ ۷۰ «ن»: دا په کافرستان کې د «پریسن» د قبـیـلې یو کوچنی کلی دی. دا کلی د «پیچ» یا «پریسن» [15] د سیند په ښی غاړه کې له چغه سرای ۷۴ مایله لیرې په یوې ستوغی ډډې باندې ودان سوی دی چې د «کڅي گرام» [16] او «پشکي گرام» [17] د کلیو تر منځ واقع دی. دې کلي کې ۳۰ کورونه دي؛ تر کورونو دیوالونه نـهٔ دي راتاو. له کلي کوز یو ښـهٔ پل جوړ سوی چې له کلي لیرې د پلـهٔ په پای کې قات کیدونکي دروازې لري. «رابرتسن، آی. بي. سي» دا کیدای سي «څوڅم» «کوکم» [18] په ۲۱ ــ ۳۵، ۵۵ ــ ۷۰ «ن» کې وي. «لودویگ آدمک»

**سـهٔ بابا**: ــ ۳۴، ــ ۶۹ : لوړوالی: ۴۶۰۰ فیټه. دا د تیزین په درې کې یو زیارت دی چې له جگدلک څخه ۱۰ مایله او د لته بند له کوتل څخه تقریباً په همدومره واټن لیرې دی. د دې زیارت په گاونډ کې استوگن وگړي غلزي دي.

د ۱۸۷۹ ــ ۱۸۸۰ز کال د جگړې په ترخ کې دلته یوه پوسته او د کمیساری یوه ډیپو وه، له همدې ځایه د تیزین له لارې کابل ته متبادله لاره تللې ده. د تیزین د سیند بستر په دې ټکي کې زښت ډېـر ناهموار او د باروړونکو څارویو د تـېـریدلو لپاره په ځانگړې توگه د اوښانو د تـېـریدلو لپاره سخت دی. د دې ځای لپاره له تـیـزین او سروبي څخه اړتیا توکي په سختۍ سره تر لاسه کیدای سي. په ژمي کې د سـهٔ بابا له څنگه سیند تـېـرېـږي چې پریمانه اوبـهٔ لري، د دې سیند اوبـهٔ د دوبي په میاشتو کې په تیزین کې د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره راگرځول کـېـږي. «آی. بي. سي»

* **سـهٔ دیوار**: ۵۹ ــ ۳۴، ۴۹ ــ ۶۸ «ن»: دا د «سوخته» [19] د شمال لویدیځ په نېـږدې ۲ مایلی کې د «سکاري» [20] د یوې څانگې په اوږدو کې یو کلی دی.

**سه کم**: [21]: دا د بهسود هزاره گانو یوه فرعي څانگه ده.

**سـهٔ پای**: [22] :د دایزنگي هزاره گانو یوه څانگه ده.

**سـهٔ پای**: یا: سي پای: [23]: دا د شینوارو یوه اساسي څانگه ده. په دې نوم یو کلی «دوشه» [24] ته نېـږدې په ۱۰ ــ ۳۴، ۳۷ ــ ۷۰ «ج» کې موقعیت لري. اوسنی نقشي د «سیپیه» [25] نوم په ۸ ــ ۳۴، ۳۴ ــ ۷۰ «ن» کې ښیي. «لودویگ آدمک»

* **سه قلعه** : [26]: سه قلا: دا د میدان د سیند په اوږدو کې د جلریز د شمال په تقریباً ۱۵ مایلی کې یو کلی دی.

---

14 -SATSUMGROM OR (TETSEMGROM)
15-Pech or Presun river
16-Kstigrom
17 -Pashkigrom
18-Tsotsum (Cocum)
19-Sukhta
20-Sekari
21 -SEHKAM
22-SEHPAI
23 -SEHPAI Or SIPAI
24-Dusha
25-Sipia
26-SEHQALA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

**سه ترح**: [27]: ۳۴ – ۴۹ – ۷ – ۷۱: دا د کونړ په غاړو کې په همدې نوم یوۀ ښارګوټي ته نېـږدې یوه جاله ده. دا ښارګوټی د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې له چغه سرای څخه ۷ مایله کوز موقعیت لري. دلته دره په یوۀ تنګي بدلېـږي چې ۳۰۰ یارډه ارتوالی لري او سیند په یوه کانال کې بهېـږي. (آی. بي. سي)

**سیوک:** [28]: دا د لال د ولسوالي په دایزنګي کې یو کلی دی. په دې نوم بل کلی په ۲۱ – ۳۴، ۲۸ – ۶۶ (ن) کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**سکندري**: دا د هزاره جاتو یوه کوچنۍ برخه ده.

* **سِرکاني**: وګورئ: سَرکاني

**شابه:** وګورئ شاهبه

**شابک:** یا: **بټي کنـډَو**: [29]: –۳۳، – ۶۹: لوړوالی: ۴۱۲۶ فیټه. دا یو کوتل دی چې په کورم کې د (مندوري) [30] له ګاونډ څخه په خوست کې د (شامه) یا (کیتو) [31] تر درې پورې منتهي کـېـږي. سره له دې چې د کوتل لاره ځای ځای ستوغه ده خو بیا هم د اوښانو د تګ لپاره عملي لاره ده او په آسانۍ سره د عرابه لرونکو توپونو د لېـږدلو لپاره مناسبه ګرځول کېدای سي. د کوتل د څوکې د لویدیځ په نېـږدې یو مایلۍ کې د افغان خاصه دارانو یوه پوسته هم سته.

**شابي**: شبي: [32]: ۷ – ۳۴، ۲۳ – ۷۰ (الف): دا د جلال آباد د ولسوالي د حصارک د علاقه دارۍ یو کلی دی چې د خوګیانیو ۱۰۰ کورونه لري. (مک ګریګر)

**شادي بیګ:** [33]: دا د (کپ ته سان) [34] بهسود هزاره ګانو یوه څانګه ده.

**شادخانه**: [35]: ۲۰ – ۳۴، ۱۱- ۶۹ (ن): دا د لوګر د درې په شمال کې یعني د تنګي واغان په شمال کې یو کلی دی. دا کلی د لوګر د سیند په ښۍ غاړه کې او د (موسه یي) د ښارګوټي په سویلي منتهی الیه کې موقعیت لري. د کلي استوګن وګړي آستانه زي غلزي دي چې په ۱۸۸۰ ز کال کې یوازې ۱۰ کورونه ول. (کلیفرډ، ایوان سمیټ)

**شاه علم افغاني**: [36]: – ۳۴، – ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د کامې په علاقه دارۍ کې مایار ته نېـږدې یو کلی دی، دا کلی د همدې ځای د یوۀ ملک تر مشرۍ لاندې دی. د کلي استوګن وګړي مهمند دي. (جنکینز)

---

27-SEHTARH
28-SEHWAK
29- SHABAK Or BATAI KANDAO : ددغـهٔ نوم مخ ته ئـي په عربي الفباء یوازي «شبک» لیکلي دي خو زه ئـي «شابک» لولم. –ژ.
30-Manduri in Kurram
31-Shama, or Kaitu, valley
32-SHABI
33-SHADI BEG
34-Kaptasan Besud Hazaras
35-SHAD KHANA
36-SHAH ALAM- I -AFGHANI


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**شاه علم تاجیکي**: [37]: ـ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د کامي په علاقه دارئ کې د مایار او ړسنګر سرایې تر منځ یو کلی دی. استوګن وګړي: تاجیکان. (جنکینز)

**شهر**: ۳۹ ـ ۳۴، ۲۴ ـ ۶۶ (الف): دا د (دولت یار) د ختیځ په ۴۰ مایلۍ کې په سر جنګل کې یو کلی دی.

**شهرِ افغان**: [38]: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د لوګر د درې په شمالي ویش کې د لوګر د سیند په ښي غاړه کې یو کلی دی. دا کلی له څلورو کوچنیو کلیو څخه جوړ سوی دی، په ۱۸۸۰ز کال کې د دغو کلیو استوګن وګړي د (ادرام زیو) [39] او تاجیکانو ۵۰ کورنۍ ول. (کلیفرډ، ایوان سمیټ)

**شهرِ بربر**: [40]:ـ۳۵، ـــ ۶۷: دا د بابا د غرۀ د یوۀ ډېـر لرغوني ښار پاتې شوني دي چې د (فیروزبهار) او د (بندِ امیر) د سیندونو د یو ځای کیدني له ټکي پورته د دواړو سیندونو تر منځ د یوۀ شیب لرونکي ناهموار غرۀ په لوړ سر کې واقع دی. په دې لرغوني ښار کې موږ د ویلو لپاره څه نـۀ لرو یوازې یو لرغون پـېـژندونکی کولای سي د دغو پاتې شونو په هکله معلومات ورکړي. د روایاتو له مخې ویل کـېـږي چې دا ښار د هغـۀ سلطنت پلازمینه وه چې د قلمرو د ساحې ډیرې برخه ئـې په هغې سیمې کې راتله چې اوس هزاره جات بلل کـېـږي. د دې ښار وګړي (بربر) [41] بلل کیدل او ښایي د تاجیکانو د هغـۀ نژاد وګړي ول چې کوچنی کوچنی ټولنې ئـې اوس د اکسوس په غاړو کې اوسېـږي. کله چې دې سیمې کې د اوسنیو هزاره ګانو نیکونه ځای پر ځای سول، د تاتارانو له یرغل وروسته ول چې د بربرانو پاتې شوني په نویو راغلو هزاره ګانو کې جذب سوي، د همدې دلیل پر بنسټ ده چې کله چې نوي راغلي هزاره ګان د بربرانو په سیمې کې میشت سول نو هزاره ګان لا تر اوسه د (بَربَري) [42] په نوم یادېـږي. ویل کـېـږي چې د (بَربَر) [43] لغت په لرغوني عربي ژبې کې د (غرنیو) [44] په معنی ده. هماغسې چې موږ د (بـربـر) [45] له نوم سره آشنا یو شک نـۀ سته چې د دواړو لغاتو تلفظ دقیقاً یو دی. (میتلند)

**شهبا**: یا: شوبه : [46]: ۲۴ ـ ۳۵، ۱۰ ـ ۶۹: دا په هندوکش کې یو کوتل دی چې له پنجشیر څخه تر اندراب پورې لاره وربانديې تـېـرېـږي، د دې کوتل څوکه د (پرندیو) [47] د کوتل د شمال ختیځ په نبـږدې ۶ مایلې کې ده. د شهبا له کوتل څخه تـېـریدونکې لاره ویل سوي چې سخته ده خو بیا هم د بار وړونکو یابوګانو د تګ لپاره عملي لاره ده. دا لاره له پنجشیر څخه د آستانه په کلي کې له (کچه) [48] تقریباً ۴/۱ ـ ۵ مایله پورته دباندې، وځي. (آی. بي. سي)

---

37-SHAH ALAM -I- TAJIKI

38-SHAHAR -I- AFGHAN

39-Adramzais

40-SHAHAR -I- BARBAR

41-Barbar

42 -Barbari

43 -Barbar

44 -mountaineer

45 - د ژباړونکي یادونه : Berber : په عربي د دواړو «ب» ګانو په کسر بربر تلفظ کیږي چې په انګلیسي کې اماریغ ویل سوي دي. همدا شان بربر د شمالي افریقا د مغرب د سیمې یوه اتنیکي ډله هم ده چې د موروکو یا مراکش، الجزایز، لیبا، تونس، موریتانیا، مالي او د نایجیریا په شمال کې ګډه وډه میشته ده. له تأریخي اړخه بربر وګړو خپله بربري ژبه درلودله چې د افریقا- آسیایي ژبو یوه څانګه ده چې په لرغوني مصر پورې اړه لري. ددوی د نیکونو نومونه د لرغوني مصر په لرغونو کتیبو کې راغلی دی. ددغو خلکو تأریخي مبحث ډیر اوږد دی او د نړۍ ډیر لرغوني وګړي دي. - ژ

46 -HAHBAH Or SHOBA

47 -Parandev pass

48 -Kacha.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**شهباز خان:** ۲۹ ــ ۳۴، ۳ ــ ۶۹: دا د کابل په ولسوالي کې یوه کوچنی کلا ده او قلعهٔ قاضي ته نیـږدې موقعیت لري او هزاره ګان په کې استوګن دي. (آی. بي. سي)

* **شاه بید:** ۱۳ ــ ۳۴، ۵۶ ــ ۶۶ «ن»: دا د بامیانو د ولایت په سویل لویدیځ کې د «کوهٔ سرِ غار» په سویل کې د «ناوهٔ سرخ جوی» په ناوه کې یو کلی دی.

* **شاه بیدک:** ۴۷ ــ ۳۴، ۴۰ ــ ۶۶ «ن»: دا د بامیانو د ولایت په لویدیځ کې د «منتیق» [49] د سویل په ۲ مایلی کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل کلی د غزني د لویدیځ په شاوخوا ۱۴ مایلی کې په ۳۳ ــ ۳۳، ۱۰ ــ ۶۹ «ن» کې موقعیت لري.

**شاه بوبو:** ۲۹ ــ ۳۴، ۱۳ ــ ۶۹: دا د کابل ــ چارآسیا د سړک په لویدیځ اړخ کې د بیني حصار د شمال په نیم مایلی کې یوه مربع ډوله کلا ده. (آی. بي. سي)

**شاه بنیاد:** دا د یخ ولنګ په ولسوالي کې یو کلی دی.

**شاه غاسي:** [50]: ۶ ــ ۳۴، ۴ ــ ۶۹ (ن): دا د لوګر په درې کې د لوګر د سیند په کیڼې غاړې کې د تنګي واغ جان د شمال په تقریباً ۲/۱ ــ ۲ مایلی کې یو کلی دی. استوګن وګړي: احمدزي او هزاره ګان. په ۱۸۸۰ز کال کې دې کلي کې یوازې ۱۰ کورنۍ وې. (کلیفرډ، ایوان سمیت) دا کلی د کلنګار د ولسوالي اداري مرکز ته نیـږدې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**شهګم بیګ:** شاه ګـُم بیګ : [51]: دا د (تکانه دایزنګي هزاره ګانو) [52] یوه څانګه ده.

**شاهي:** ۳۸ ــ ۳۴، ۳۹ ــ ۶۶ (ن): دا د هریروډ په اوړدو کې د بامیانو په ولایت کې د (سیاه چشمه) په لویدیځ کې یو کلی دی. په دې نوم نور کلي: د هلمند د سیند د یوې څانګې په اوږدو کې په ۸ ــ ۳۴، ۱۰- ۶۷ (ن) کې، د الیشنګ د سیند په اوږدو کې د الیشنګ د سیند د شمال په نیـږدې ۱۲ مایلی کې په ۵۵ ــ ۳۴، ۵ ــ ۷۰ (ن) کې؛ او د لوګر په ولایت کې د ناوهٔ خروار د سویل لویدیځ په نیـږدې ۱۵ مایلی کې په ۳۸ ــ ۳۳، ۱۲- ۶۸ (ن) کې موقعیت لري.

**شاهي:** دا د دایزنګي هزاره ګانو یوه فرعي څانګه ده.

* **شهید** :۵۹ ــ ۳۴، ۵ ــ ۷۱ (ن): دا د کونړ د سیند د یوې څانګې په اوږدو کې د (کتار/ کتر) [53] د شمال په یو مایلی کې یو کلی دی.

**شهیدان** :۳۱ ــ ۳۴، ۱ ــ ۷۰ (ن): دا د کابل د سیند د ښۍ غاړې په اوږدو کې د کابل د سیند او د الیشنګ د سیند د یو ځای کیدنې په ټکي کې په لغمان کې یو کلی دی.

دا کلی له لاندنیو کوچنیو کلیو څخه جوړ دی:

---

[49] -Mantiq
[50] -SHAHGHASI
[51] -SHAHGUM BEG
[52] -Takana Dai Zangi Hazaras
[53] -Katar


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

| | |
|---|---|
| ۱ | قلعـهٔ قمر الدین |
| ۲ | بانډهٔ مـحـمد اسلام |
| ۳ | بانډهٔ شهاب الدین |
| ۴ | ډهٔ دُر محمد |
| د کلیو استوګن وګړي کوچیان دي | |
| (واربرټن) | |

**شهیدان: ـ۳۴، ـ ۶۸** : دا یو منځغری دی چې د بابا له غرهٔ څخه د بامیان پر درې راکوز سوی دی او له قلعـهٔ سرکاري ۱۰ مایله پورته د بامیانو په درې کې راڅرګندیـږي.

دا منځغري له سویل لویدیځ لوري مخ پر شمال - شمال ختیځ لور غځیدلی دی او په هغـهٔ ټکي کې چې له بامیانو تر دولت یار پورې سړک ننوځي نیم مایل ارتوالی لري. دا منځغری دلته ډیـر حاصلخیزه دی، دلته پینځه کلا ګاني او کلي دي او هغـهٔ ټکي ته نیـږدې واقع دي چې سړک له منځغري څخه تـیـرېـږي. له دغو کلیو پورته ۳ نور کلي هم سته. په ټولو کې لوی کلی «قلعـهٔ باقر بیګ» دی. د شهیدانو استوګن وګړي د دوی د خپلې ادعا پر بنسټ ینغور دایزنګیان دی. وګورئ: بامیان ـ ولسوالي.

له شهیدانو پورته یوه لاره د «جیره خانه کوتل» ته تللې چې تر همدې بهسود پورې رسیـږي. داسې ښکاري دا لاره له «پولاده» څخه راغلې د «سیاه بیګ» له لارې سره یو ځای کـیـږي. د بامیانو له تقاطعي سړک کوز، شهیدان په یوهٔ تنګي بدلیـږي. (میټلند)

**شاهي قلعه**: وګورئ: میدان ـ پای کوتل

**شاهي قلعه**: وګورئ: تـتـنـګ ـ جبار [54]

* **شاهي خیل**: ۵۷ – ۳۴، ۵۱ – ۶۸(ن): دا د پروان په ولایت کې د غوربند د یوې څانګې په اوږدو کې یو کلی دی.

* **شاهي کوټ**: ۱۶ – ۳۴، ۳۴ – ۷۰ (ن): دا د ننګرهار په ولایت کې د جلال آباد په سویل ختیځ کې د «چپرهار» [55] په ختیځ کې یو کلی دی.

**شاهٔ مردان قل: ـ۳۴، ـ ۶۹** : دا د کابل د چاردهي په درې کې د «ګاو خاني او قلعـهٔ میرغضب» [56] تر منځ یوه کلا ده. د دې کلا اوبـهٔ له یوهٔ کاریز څخه دی. استوګن وګړي: تاجیکان او بارکزي؛ ټول ۲۵ کورنۍ دي. (آی. بي. سي)

**شاهٔ مشهد:** ویل کـیـږي چې دا د دایکنډي په سیمې کې یو مشهور ځای دی.

**شاه مسید:** [57]: دا د دایزنګي هزاره ګانو د بچه غلام د قبـیـلې یو ټبر دی.

54 -TATANG -I -JABAR
55 -Chaparhar
56 -Gaokhana and Kala -i -Mir Ghazab
57 -SHAH MASID


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ

* **شاهين**: ۷ ــ ۳۴، ۳۱ ــ ۶۹ (ن) دا د لوګر په ولايت کي د (ازرې) [58] د سويل لويديځ په نږدې ۶ مايلۍ کي په «ازره دره» [59] کي يو کلی دی.

**شاهين**: ــ ۳۴، ــ ۶۶: دا سر جنګل د درې په پورتنی برخي کي يو کلی دی. په دې نوا يو بل کلی په ۳۸ ــ ۳۴، ۳۹ ــ ۶۶ (ن) کي موقعيت لري. اوسنی نقشي د شاهي نوم ښيي.

**شهکي**: [60]: ۹ ــ ۳۵، ۷ ــ ۶۹: دا په کوهستان کي يوه کلا ده چي د نجراب د درې په مدخل کي د تـتـم درې د شمال لويديځ په ۱۰ مايلۍ کي موقعيت لري. (پاتنجر)

**شاهمک**: شامق : [61]: ۵۸ ــ ۳۴، ۸ ــ ۶۹ (ن): دا په کوهستان کي د تاجيکانو د ۵۰ کورونو يو کلی دی چي د چاريکارو د سويل په ۲ مايلۍ کي موقعيت لري. د دې کلي استوګن وګړي بزګران دي او کلی د رڼو اوبو عالي نهر لری. (ميسن، شهزاده تيموس) اوسنۍ نقشي د «شامق» [62] نوم ښيي. (لودويګ آدمک)

**شاه مزار**: ۵۲ ــ ۳۳، ۵۶ ــ ۶۸ (ج): دا د لوګر د سيند د کيڼي غاړې په اوږدو کي د لوګر په درې کي، د بره کي راجان د سويل ختيځ په ۴ مايلۍ کي يو کلی دی. استوګن وګړي: آستانه زي غلزي چي په ۱۸۸۰ کال کي ئـي ۱۵۰کورنی وې. (کليفرډ، ايوان سميټ)

**شاه محمد** :دا يوه کلا ده چي ۵۰ کورونه په کي دي او کولای سي ۲۰۰ تنه جنګيالي چمتو کړي. روښانه نـهٔ ده چي دا کلا چيرته دی خو دغه سرچينه چي د دې کلا يادونه کوي فکر کوي دا کلا د ځائيو په سيمي کي ده. (آغا عباس)

* **شاه قلعه**: ۴۹ ــ ۳۴، ۵۷ ــ ۶۸ (ن) ۴۹ ــ ۳۴، ۵۷ ــ ۶۸ (ن): دا د لوګر په ولايت کي د بره کي برک او ناوهٔ خروار تر منځ نيمايي لاره کي د «پن ګرام» [63] د سيند په اوږدو کي يو کلی دی.

**شهرستان**: ۲۲ ــ ۳۴، ۴۷ ــ ۶۶ (الف): دا د کابل ــ هزاره جات ــ دولت يار د سړک په اوږدو کي د «پنجاو سرای» [64] د لويديځ په ۱۵ مايلۍ کي د دمي نيولو ځای دی. په دې نوم نور کلي: په ۳۴- ۳۴، ۳۱ ــ ۶۶ (ن) کي؛ او د باميانو په ولايت کي بند امير ته نږدې په ۴۷ ــ ۳۴، ۱۳ ــ ۶۷ (ن) کي. (لودويګ آدمک)

**شهرستان**: وګورئ: زر سنګ

**شاه سروف**: وګورئ: سراف

---

[58] -Azra in Logar province
[59] -Azra Dara
[60] -SHAHKI
[61] -SHAHMAK
[62] -Shamaq
[63] -Pengram stream
[64] -Panjao Sarai


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

**شاه توري**: یا: شه توري: [65]: ۱ ــ ۳۳، ۱۴ ــ ۶۹ ,الف,: دا په همدي نوم د یوهٔ سیند په اوږدو کې د خروټو د استوګني یوه سیمه ده ,دا سیند د ,توچي, [66] سیند ته ورغورځي, چي له غزني څخه تر,داوړ, [67] پورې د سړک په اوږدو کي له غزني څخه پینځه منزله لیرې موقعیت لري. دلته دې کلي کي له ۲۰ تر ۳۰ پورې کورونه دي. دې کلي کي اوړهٔ، غوړي او وریجي پریمانه دي. د کلي اوبهٔ د اوبو له چینو څخه دي چي ښې اوبهٔ دي خو پریمانه نهٔ دي. سون توکي او علوفه په نسبتاً مناسبي اندازې موندل کېږي. د بومي معلوماتو پر بنسټ د دې ځای واټن له غزني څخه اټکلي ۶۹ مایله دی. ,مک لین, په دې نوم یو بل کلی په ۱ ــ ۳۳، ۴ ــ ۶۹ ,ن, کي موقعیت لري. ,لودویګ آدمک,

**شاه تو: شاتو**: [68]: ۳۵ ــ ۳۴، ۵۸ ــ ۶۶ ,ن,: دا یو ډېر سخت کوتل دی چي د بابا په غرهٔ کي د هلمند له درې څخه تر بند امیر پورې منتهي کېږي. سړک په پنجاو کي د کابل ــ هزاره جات عمومي سړک شا ته پرېږدي او په اوه لسم مایل کي ,پای کوتل ِ شاه تو,[69] ته رسېږي، بیا په ۳۲ مایل کي ,شیوه انده, [70] او په ۴۶ مایل کي ,تګاو زري, [71] ته رسېږي. ,بومي معلومات,

**شاه توس: شاه طوس**: [72]: ــ ۳۳، ــ ۶۸: دا د غزني په لویدیځ کي د اساسي غرونو په منځ کي یو اساسي غر دی. ,هستینګ,

**شاه توت**: ۲۳ ــ ۳۴، ۵ ــ ۶۹ ,ن,: دا د کابل د للندر په درې کي یو کوچنی کلی دی. ,دتون,

**شاهو**: [73]: دا محمد خواجه هزاره ګانو یوه څانګه ده.

**شیګو**: وګورئ: سیګان: [74] :

**شیخ**: دا د بهسود هزاره ګانو یوه فرعي څانګه ده.

**شیخه**: دا د ,ختای, [75] هزاره ګانو یوه څانګه ده. وګورئ " بامیان"

**شیخ آباد**: ۵ ــ ۳۴، ۴۵ ــ ۶۸: دا په وردکو کي له کابله ۲/۱- ۴۶ مایله لیرې د غزني د سړک په اوږدو کي یو کلی دی. دا کلی د لوګر د سیند د ښی غاړې په اوږدو کي د ,خیري تی سنګ؟, [76] په مقابل لور کي چي په شیخ آباد کي رانغاړل کېږي واقع دی. له همدې کلي څخه ول چي په ۱۸۳۹ز کال کي ,اوترام, [77] د یغمان د غرونو د هغهٔ متقاطع

---

65 -SHAHTORI Or SHATURI
66 -Tochi
67 -Dawar
68 -SHAHTU Or SHATU
69 -Pai Kotal -i-Shahtu
70 -Shewa Anda
71 -Tagao Zari
72 -SHAHTUS
73 -Shewa Anda
74 -SHAIGO See SAIGAN
75 -Khatai Hazaras
76 -Kheri Taisang
77 -Outram


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

سرک له لارې چې تر «یورت»[78] پورې رسېـږي د دوست محـمد خان تعقیب پیل کړ. برتانوي ځواکونو دا کلی د وروستي ځل لپاره په ۱۸۸۰ز کال ولید، یعني په همدې کال «جنرال راس» په شیخ اباد کې د دمې نیولو کمپ وواهـهٔ او څو اونۍ وروسته «سر فریدریک» هم دلته هغه مهال چې له لوګر څخه د کابل پر لور روان وو دمه وکړه. شیخ آباد یوه ډېـره ښه کلا لري.

«په ۱۹۰۶ز کال کې» یو معماري پل دلته د لوګر د سیند له پاسه جوړ سو او همدا شان دلته له لرګیو جوړ مؤقت پل هم سته؛ دلته د لوګر له سیند څخه تـېـریدل معمولاً د تـېـریدلو وړ دی.

په شیخ آباد کې د پوځ د ځواک د کمپ وهلو لپاره پریمانه ځای سته؛ وریجې او جوار دلته ډېـر دي؛ غنم په قلت دي؛ سون توکي په لږه اندازه؛ واښـهٔ او شفتل په کثرت دي. «آی.بي.سي» په دې نوI یو بل ځای په ۲۰ – ۳۴، ۴۴ – ۶۹ «ن» کې موقعیت لري.

نور بیا

## * شیخ علي: شیخ علي د پروان ولایت یوه علاقه داري...

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه [لینک](#) لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

78 -Yurt



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ